ډاکتر رحمت ربی ځیرکیار*

۱۳ فبروری ۲۰۱۶

## د جرګې په مخکې او د ټوپک تر شا:
## د جنرال یارمحمّد خان وزیری د کتاب لنډیـز
## ۳


* د برلین د ازاد پوهنتون، د کابل پوهنتون، او په امریکه کې په دوه پوهنتونونو کې د سیاسي علومو پخوانی ښـوواند. ماسټري او ډاکټري دواړه په سیاسي علومو کې د برلین په ازاد پوهنتون کې، او مافوق بکلوریا په سیاسي تعلیم او تربیه کې په ګویټي پوهنتون کې – د فرانکفورت/ماین ښار


### (۱۲) پـه غزني کې د امان الله خان د لښکر مـاتې

د وزیـرسـتــان نږدې شپږ زره لښکر اورګـون ته ورسید چې د بچه سقاو په ضد په غزني کې وجنګـیږي. خـو مخکې لـه دې چې غـزني تـه ورسیږي، خبـر شول چې هلته د امــان الله خان کندهاري لښکر ماتې خوړلې وه او بیرته کندهار ته ستون شوی و. د وزیرو لښکر هم د ۱۳۰۸ د ثور په ۴[۲۴ اپریل ۱۹۲۹] د وزیرستان برمل ته ستون شو

محّمدنـادرخان چې د ۱۳۰۷ لمریز د حوت [مارچ ۱۹۲۹] په میاشت کې له فرانس نه پېښور ته راسـتـون شوی و، له هغه ځایه یې ځان پکتیا ته رسولی و. دوه ورونه یې ( کرنیل شاه ولیخان او کرنیل شاه محمود خان) په پکتیا کې ورسره وو چې هلته ولس د بچه سقاو په ضد راټول کړي. په ننګرهار کې هم محّمد ګل مومند او سردار محّمد هاشم خان دغه هدف ته د رسیدلو لپاره ملا تړلې وه. خـو د دوی ټولو هڅو کومه نتیجه ورنکړه ځکه چې د ولس مشران د بچه سقاو پلویان وو او د حـضـرت صاحب نورالـمشایخ اغا ګل مجـددي په مشورو کې ښکیل شوي وو. د «غلجي پښتنو اکثر قبـایل او مشران یـې د مریدی په حلقه کې وو». نادرخان او ورونه یې د بچه سقاو په ضد وو، خــو نـادرخـان خـپـل دریځ نـه و اعـلا ن کړی چې د امان الله خـان یـا د خـپل ځان لـپاره د سقـاوی خـتـمول غـوارې( ۲۰۷-۲۱۲مخـونه).] پـه دې اړونـد کې بـه زه وروسته د نـورو افغان او غیر افغان څیړونکو مـعلومات اونـظریې هم د د ي لیـکنـې پـه پـای کې وړانـدې کـړم].

### (۱۳) د مسیدو او وزیر د لښکر بیا را غونډول

جنرال وزیری دې پایلې ته ورسید چې بیا دې د مسیدو او وزیرو لښکر راغونډ کړي او سقاوي دې پای ته ورسوي. «سپه سالار محّمد نادرخان او د هغه سره مل ورونو **د څلور میاشتو په مدت کې څلور سوه افراد په درست جنوبي کې هم نه وو په څنګ کې درولي»**، او د سقاویانو د مخ په زیاتیدونکي شمیر له امله له« یوې سیمې څخه بلې سیمې ته په منډه او فرارکې وو.» جنرال وزیری په برمل کې د قومي مشرانو سره پریکړه وکړه او دا ځل د شپږنیم زره لښکر سره پکتیا ته ننوت، په دې پلان چې لومړی به د اورګون چونۍ وهي او بیا به د کابل په لوري خوځیږي. د وزیرو او مسیدو لښکر د ۱۳۰۸ لمریز د جوزا په لومړۍ نیټه[۲۲ می ۱۹۲۹] اورګون ته ورسید او خپل کمپ یې د اورګون نظامي کلا(مونډې) ته نږدې وواهه چې سقاوي غونډ مشر عبدالغیاث خان کوهدامنی او کنډکمشر میرحسن خان چندا ولي یې کوماندانان وو. جنرال وزیري وروسته له خپلمنځې جرګې مشورې نه، عبدالغیاث خان او سیدحسن خان ته د پښتونوالي د اصولو سره سم له درناوي ډک لیک ور ولیږه:« جناب غونډ مشر صاحب عبدالغیاث خان او جناب کنډ کمشر صاحب سید حسن خان، السلام علیکم علی عبادالله صالحین!» د مونډې کلا د وزیرو، سلیمانخیلو، دیګانو/تاجکو، خروټو او ځدرانو ملکیت دی. روغه به دا وي چې تاسې له دغه قومي ملکیت نه ووځئ ، د بچه سقاو جنډه راکوزه کړئ او« بیا د امکان په صورت کې د سیمې د قومونو او قبیلو د مشرانو د جرګې د فیصلې نه وروسته واپس اورګون او پوځې کلا ته داخل شئ » (۲۱۳تر۲۱۶مخونه). دغه لیک د وزیرو او مسیدو مشرانو هم لاسلیک کړی و. خو سقاوي عبدالغیاث خان ورته د لیک ځواب بې له لیک نه، په درې ګزه سپین ټوکر د «پړوني» په څیر ور ولیږه چې «پر سر یې کړې». جنرال یار محّمد خان دغه سپکاوی د نورو مشرانو او لښکرسره شریک کړ. د جنګ کومانده د جنرال وزیري په لاس کې وه او مرستیالان یې انګورخان او قطب خان مسید وو.

د لمریز۱۳۰۸ د جوزا د لومړۍ شپې[۲۲ می ۱۹۲۹] په لسو بجو ډول ووهل شو په مونډه کلا برید پیل شو. د جوزا په شلمه[۱۰ جون ۱۹۲۹] ، هغه ملا یعقوب اورګونی چې د سقاوي غونډمشرعبدالغیاث له خوا یې درې ګزه سپین ټوکر جنرال وزیري ته تسلیم کړی و، داځل د دوه سپین ږیرو سره غبرګ راغی او د عبدالغیاث خان « د تسلیمۍ او د کلا د راسپارلو پیغام یې راورساوه.» سبا سقاوي پوځیانو ځانونه د وزیرو او مسیدو کمپ ته تسلیم کړل، او ټولومشرانو ورسره د غیرې سترې مشې وکړل او د دښمن نه بلکې د یوه خواخوږي دوست په څیر یې د هغه[عبدالغیاث خان کوهدامني] او ورسره مل ملګرو عزت او احترام وکړ....او ما[ جنرال وزیري] شخصا عبد الغیاث خان غونډمشر ته یو انګریزی ټوپک، دوه سوه کارتوس او یو د سپرلۍ اس ورکړ[ل]او هم مې خو تنه ننګیالي د هغه د حفاظت لپاره ورسره مل کړ[ل]...او نور ټول پوځیان مو په عزت او احترام سره رخصت کړل.» نادرخان د ځاځیو په علیخیلو کې اړولي وو. جنرال یارمحّمد خان وزیری ورته لیک ولیږه چې د امان الله خان د بیا راوستلو لپاره ورسره د کابل په لوری وخوځیږي. خو جواب یې «په ښټ را نغی.»( مخونه ۲۱۶تر ۲۲۵). جنرال وزیري شپږنیم زره تکړه سرتیري لرل، او وسله او خوراک یې په اورګون کې له مونډې کلا نه لاسته راوړي وو. خو نادرخان او ورونو یې نه سرتیري لرل، نه یې وسلې لرلې او نه یې پیسې لرلې چې د جنګ سرې او وسلې پرې راونیسي. هغوی د ځاځیو په علیخیلو کې هم ارام نه وو ځکه چې په خوست او څمکنیو کې د سقاویانو د ګواښ سره مخامخ وو. په دغسې شرایطو کې نادرخان او وروڼه یې مجبور وو چې د لیکوال جنرال یارمحّمد خان وزیری کوماندې ته تن کښیږدي. په ساړه موسم کې پکتیا په داسې کوچیانو ډکه وه چې د سقاوی پلویان وو. د مونډې کلا له برې نه وروسته، د وزیرو او مسیدو لښکر تقریبًا دوه میاشتې دمه وکړه چې د کور کارونه سم کړي او هم پریږدي چې د هوا په نر میدو سره کوچیان له

پکتیا نه کـډي واخلي او د سقـاویانو زور کـم شي. پـه نـرمه هـوا کي د وزیـرو او مسـیدو لښکر کـولـی شـول چي پــه یــو ځــادر کي هــم ځانـونــه تــاوده وســاتــي

"ماما زیـارت" په وزیـرستان کي د یـو غـټ شخص مړستون (هدیره) دی. نږدې اویـا تنه مشران هلـته جـرګه شول او داسي پـریکـړې یې وکـړې:

(۱) د جګړې کوماندان بیا هم جنرال یارمحّمد خان وزیری وټـاکل شو؛ (۲) په اورګــون کي نیول شوې وسله او خـوراک دې د ځان سره ویوړل شي؛ (۳) کوښښ دې وشي چي د سـقاو پلویانو ته د جنګ په ځای د دوستی لاس وروغځول شي؛(۴) محّمد نادرخان او ورونه دې دیته راوبلل شي چي د هیواد د ژغورني په جګړه کي برخه واخلي؛او(۵) د کابل په نیولو سره دې امان الله خان بیرته راوبلل شي یا دې د هغه د کورنی کوم نـږدې غړي ته د سلطنت واګي وروسپا ل شي.

په "ماما زیارت" کي ځلورنیم زره وزیر او مسید جنګیالي د ۱۳۰۸ د سنـبلي په میاشت کي راغـونـډ شـول(مخونه ۲۳۲-۲۳۳). محّمد نادرخان د لوګر د کـولانګار د حـاجي نواب خان او له پنجاب نه افغانستان ته د راغلي الله نواز خان په لاس، په برمل کي د وزیرو او مسیدود لښکر کوماندان (جنرال یارمحّمد خان وزیري) ته داسي لیک ورولیـږه: «عزیزانو! د وزیرو او مســودو[مسیدو] غـیورو مشرانو، ستاسي میـرانه او شجاعـت د خپلواکی په جګړه کي راته ځرګند شوي دي. نن بیا همغه د میـراني اوغیرت ګینـته ده. اعلیحضرت غازي امان الله خان د یوه سارق او کـوتاه طریق له لاسه خارج ته فـرار کړی دی. د هیواد هـره بر خه د بی اتفاقی په اور کي سوځیـږي. افغـاني ننــګ او غیـرت داتـقاضــا زمـوږ تـولـو ځخه کوي : چي پــه اتـفاق او اتحاد سره وطن ته د رواني فتني نه نجات ورکـړو. محمد نــادر» - مخونه ۲۳۸-۲۳۹

### (۱۴) د خوست جـګـړه

کـله چي د وزیـرو او مسیـدو لښکر د خوست پـولو ته ورسـید،د بچه سقاو پلویانو یي کلکه مخه ونیـوله. قاضي عبدالله خان شمل(د بچه سقاو غونډ مشر)، ګلام خان ګـربـز، بلـندخان ځدراڼ او ملـک جـان خان سلیمانخیل ورته د خپلو سړو په لاس اخطار ورولیږه: د خوست اوسیدونکي د وزیـرو او مسید و لښکرنه پریـږدي چي د خوست له لارې کابل ته تیرشي، او تر څو چي «موږ ژونـدي اوسو تاسي به دا کار ونکړای شئ.» خوستیانو درې زره وسله وال لرل، او د خوست په ختیزه خوا کي د وزیرو، مسیدو، دوړو اوتنیـو د جنګیالـیو شمیر ځلورنیم زره تنو ته رسیده چي هلته «پوره دولس ورځي تم شول» ځکه چي د مقابل اړخ سره یي «د لارې د خلاصون په خاطر خبری او جرګي» کـولي. د نادرخان سـری مولـوي الله نـوازخان چي اصلا د پنجاب و او نـه د پښتـونـوالي په اصولو پوهیده او نه یي کومه قبیلوي غلیمي غاړې ته لـویدله، «هـره شیبه بـه یـي د جنـګ د پـیلـولو خبری کـولي».ولولئ:۲۴۰-۲۴۲مخـونه

د مشرانو له خپلمنځي جرګي نه وروسته، پریکړه دا شوه چي باید د دوی لښکر د سقاویانو په مقابل کي وجنګیـږي او افغانــستان وژغوري( دا د ۱۳۰۸ د سنبلي اخري ورځي وی)[ د ۱۹۲۹زیـیـز د سپتمبـر د شلمي په شاوخـوا کي].

په خوست باندي د برید د تیاري په مهال، ځلمــی خان منګل د اویـا(۷۰) سړو سره او زمرک خان « د قهرمان ببرک ځدراڼ ځـوی» د اتیا(۸۰) سـړو سره د وزیـرو، مسیدو، دوړو، او تـنیـو د لښکر سره غبرګ شـول. تـول د خوست د بازار په لوري وخوځیدل او سخت جنــګ پیل شو. د خوســتیانو کونـډي نومي قبیلي کلک برید وکړ،او له مقابل اړخ نـه یي لس تـنه ووژل او فرقه مشر اختـی جان احمد زی وزیر یي ټپي کړ. مخکي له دې چي کـونـډیانو

تــه د نـورو سقاويانو ملاتړ راورسيـږي، د مابنام په خړه کي يي ماتي وخوړه:شپېته تنه جنګيالي يي ووژل شــول او نــور وتــښتيــدل.وروستــه لــه دې چي کـونډيانو خپل مړي خاورو ته وسپارل، د جنرال وزيري د کـوماندې لانـدې لښکر د کونډيانو د مړيو او نيول شوو وګړو وسلې ونـيولې. په دغـه مهال ورته د غـونډ مشر نـور محّمد ګـرديزي پيغام راورسيد چي په خوست کي دخپلو جنګياليو سره محاصره شوی و. نوموړی د امان الله خان «د ځانګړ وفادارانو له جملې څخه و.» جنــرال يارمحّمد خان وزيری بله ورځ د غونډمشر ګـر ديـزي چونۍ ته ورغی او ده ورته ټوله وسله او جبه خــانه وروسپــارلــه. له دې وروسته ، د افغانستان د ژغورني زمريالي د زمرک ځدراڼ او ځلمي منګل په ګډون د بنګي باغ د کلا په لوری وخوځيدل څکه چي هلته د بچه سقاو د غونډ مشر قاضي عـبدالله شمل، ګـلام خان ګوربز، بلند ځدراڼ او ملک جان خان سليمانخيل جنګياليـو اړولي وو. جګړه «پـوره» درې ورځي او شپې وغځيدله، او دواړه خواوې «په ميړانه» جنګـيدلــې(۲۴۰ تر ۲۴۷ مخونــه). خو په پايله کي سقـاوي اړخ ماتي وخــوړه(۱۳۴۸ هجری قمري د ربيع الثانی ۱۹)[ ۲۵ سپتمبر ۱۹۲۹= ۳ ميزان ۱۳۰۸لمــريز]. وروستــه لــه دې، بــريــالی اړخ د ځائيو د علی خيلو په لــور وخوځيد چي هلته د محّمد نـادر خان سره وګوري اوپه ګـډه سره د افغانستان د ژغـورني (نجات)نـقشه جـوړه کـړي

## (۱۵) د نـاهيلي محّمد نادرخان سره ګډه نـقشه جوړول

د خـــوست او ځائيو په منځ کي ځمکني ميشت وو. هلته سقاويان د ملک ميراکبر او مغل خان د مشری لاندې برلاسي وو. خو بې له جنګه د ليکوال جنرال وزيري پيغام ته تسليم شول،ځــکه دوی دواړه د خـوستـي ســقاويـــانو په کــلکه ماتي خبــر وو. د ۱۳۴۸هق د ربـيع الثانی په ۲۰[۲۵ سپتمبر ۱۹۲۹=۳ مـيزان ۱۳۰۸] د ژغـورنی لښکــر د ځائـيو عــليخيــلو تــه ورسيــد او هلته ورتــه محّمــدنادرخان په «افـغاني جامه» کي له چاونۍ نه بهر راوتـلی و او د ټولو مشرانو سره يي پــه غيــږ روغبــړ وکړ.



**<u>ياس هغه ليک دی چي سپه سالارمحّمد نادر خان په ځائيو کي جنرال يار محّمد خان وزيری ته ورکړی و</u>**

د ځاځیو «غیرتي مشرانو»(حاجی جانخان، سیدخان، سربلندخان اولیپت خان) د جنرال یارمحّمد خان وزیري هیله ومنله چې: ترهغه مهاله به دغه مشران او ولس په وارسره « زموږ[ د وزیرو، مسیدو، دوړو او تنیو د لښکر] تیکله برابروی » او دغو «میړنیو مشرانو په ورینه تینده سره زما[جنرال وزیري] غوښتنه ومنله». د ماښام له لمانځه نه وروسته، نادرخان خپل استوګنځای ته ستون شو، او د ماخوستن له لمانځه نه وروسته یې جنګي مشرانو ته بلنه ور کړه چې جرګه ورسره وکړي. هغوی ورغلل، او په استوګنځای(چونی) کې محّمد نادرخان «زموږ دهرکلي لپاره لاس پر نامه ولاړ و». په دغه غونډه کې مشرانو «پوره درک کړه» چې محّمد نادرخان «ځومره ناهیلی» و. ده په شپږ میاشتو کې ونشوکولی چې په جنوبي کې «ځلور سوه جنګیالي» په ځان راټاو کړي

## (۱۶) د محّمد نادرخان سره د امان الله خان لپاره تړون لاسلیک کول

د مشرانو په وکالت لیکوال جنرال یارمحّمد خان وزیري چې د ژغورني د جګړې کوماندان و، محّمد نادرخان ته داسي وویل:«سپاه سالار صاحب! دا ننګیالي او جنګیالي ...خاص د اعلیحضرت غازي امان الله خان د هغه فرمان په اعتبار راغونډ شوي دي چې د ۱۳۰۸د حمل په دولسمه نیټه[۱ اپریل ۱۹۲۹] په شاجوی کې مالره وزیر صاحب عبدالا حد خان سپارلی و»(۲۵۰-۲۵۷مخونه). تر دي وینا وروسته، عبد الله خان مداخیل د ملک زنګي خان مداخیل ورور وویل: «سپاه سالار صاحب!...[لیکوال جنرال یارمحّمد وزیري او د ژغورني د جګړې کوماندان]هغه څه بیان کړه چې موږمشرانو عهد او پیمان پري کړی دی». غونډه په دې پریکړه پای ته ورسیده چې «سبا به جرګه کوو». سبا د ربیع الثاني په ۲۱/ ۱۳۴۸هق [۲۶ سپتمبر ۱۹۲۹=۴ میزان ۱۳۰۸لمریز] په جرګه کې د ژغورني د جګړې مشرانو او محّمد نادرخان ۱۵ پریکړې ومنلي چې یو څو یې دادي:

(۱) د هیواد په ژغورني ورپسي دي واکمني امان الله خان ته یا دی د ده د کورنی کوم بل غړي ته ور وسپارل شي؛ (۲) د امان الله خان تر راتګ پوري به محّمد نادرخان د واکمنی کفیل وي؛ (۳) حکومت دي د هغه چا یادښت وکړي چې د هیواد د ژغورني په لار کې یې سر او مال ښندلی وي، او په «تاریخ کې دې ثبت شي»؛ (۴) له ژغورني وروسته دي د ژغورونکي لښکر د شهیدانو او معلولینو پاتي شونو ته «معاشات او مکافات مقرر شي»؛ (۵) له دي امله چې د هیواد پوځ په کورنئ جګړه کې «تباه شوی دی او هم یو شمیر صاحب منصبانودخاوري او حکومت سره خیانت کړی دی...»، نو د ژغورونکو لښکرو«مشرانو او افسرانو ته دي په پوځ کي دندي ورکړل شي»؛ (۶) د وزیرو او مسیدو د لښکر مشرانو د ۱۳۰۸ لمریز له ثور راهیسي د افغانستان د ژغورني لپاره د سقاو پرضد «په کروړونو کروړونو افغانی لګولي دي»، له بري نه وروسته دي حکومت هغوی ته دغه لګښتونه ورکړي؛ (۷) همدا اوس دي د سقاو ټولو پلویانو ته عفوه اعلان شي، خو د جګړې بندیان دي د هیواد د ژغورني پوري «وساتل شي» او بیا دي « په عزت او احترام سره» ازاد شي. ورپسي **محمد نادر خان «زموږ سره په قرآن لاسلیک وکړ چې د جرګې ټولو پریکړو... ته به غاړه ږدي»** . د لیکوال جنرال یار محّمد خان وزیری د کوماندي لاندي لښکر د ۱۳۴۸سپوږمیز د ربیع الثانی په ۲۲ [ ۲۷ سپتمبر ۱۹۲۹= ۵ تله ۱۳۰۸]، د ځاځیو له علی خیلو نه د ځاځیو د ګل غونډی په لوری وخوځید،او د ځدرانو او منګلو ۱۵۰ تنه جنګیالي د خپلو مشرانو [زمرک خان ځدراڼ او زلمي خان منګل] سره په علی خیلو کې «پاتي شول». فقیر محّمد خان مومند چې د امان الله خان په پیرکي دسیهلي سیمو د ځنګلونو رئیس و، د امان الله خان « د

درجه اول پلویانو او ملګرو ګخه و» او هغه مهال چي د جنرال یارمحّمد خان وزیري جنګیالي د ځاځیو په ګل غونډۍ کي «اوسیده، نوما او رئیس صاحب فقیر محّمد خان مومند به هره ورځ یو دبل سره لیدنه او کتنه کوله».
هغه مهال چي امان الله خان پرېښی او کندهار ته تللی و، فقیر محّمد مومند د ملنګ په جامو کي شاجوی ته تللی و او له جنرال وزیري نه یي هیله کړې وه چي که هزاره جات ته یي د بدرګي په واسطه ورسوي. هغه مهال لیکوال جنرال دغه مومند نه پیژانده خو د ملنګ هیله یي په ځای کړه. فقیر محّمد مومند ورته وویل چي « هغه ملنګ پخپله دی و» او د سفر موخه یي داوه چي هزاره قوم د امان الله خان د دفاع لپاره راوپاروی. فقیرمحمد مومند لیکوال جنرال ته ور زیاته کړه چي: «ستا سره هم د هغه [امان الله خان] مینه او محبت دی....ګوره په دې ...ستر خدمت کي د چا په سیاسي لوبه کي رانښکیل نه شي او د محّمد نادرخان په عهد او پیمان باندي باور ونه کړې». جنرال وزیري ور غبرګه کړه چي «اولا ته د سلطنت د وکالت له پاره د [د امان الله خان د ورور] سردار امین جان موافقه تر لاسه کړه، وروسته تولي چارې زما په غاړه دی.» دسپوږمیز ۱۳۴۸ د ربیع الثاني په ۲۵[۳۰ سپتمبر ۱۹۲۹= ۸ تله ۱۳۰۸ لمریز] ورته فقیر محّمد مومند وویل چي «سردار امین جان د سلطنت د وکالت ستر کار ته ځان نه شي نیولای، هغه بې زړه شوی دی او یا داچي د سردار یوسف خان ځوی[ د محّمد نادرخان پلار، د یحی خان ځوی او د سلطان محّمد خان طلایي لمسی] د هغه په زړه باندي د خپل قهرمان ورور په وړاندي حسد ننه ایستلی دی.» ۲۵۸تر ۲۶۶مخونه
جنرال وزیري د مشرانو ملګرو سره له ګل غونډۍ نه بیرته علی خیلو ته راستون شو(ق۱۳۴۸ ۲۷ ربیع الثاني= ۱۰ تله ۱۳۰۸لمریز= ۲ اکتوبر ۱۹۲۹). علت یي داو چي د ځدرانو اومنګلو د جنګیالیو مشرانو غوښتل چي ټول یو ځل بیا د محّمد نادرخان سره جرګه وکړي. محّمد نادرخان ورته وویل چي د لوګر په دوبندۍ کي دې د سر دار شاه ولیخان سره ووینې او په ګډه سره دې په کابل باندې د برید نقشه غوره کړي. ټول لښکر د ۱۳۰۸لمریز د تلې(میزان) په ۵[ ۲۷ سپتمبر ۱۹۲۹] دوبندۍ ته ورسید او کرنیل شاه ولیخان او ملګري یي ښه راغلاست ته راوتلي وو. شاه ولیخان د ځاځیو جامي اغوستي وې او د لښکر د ټولو مشرانو سره یي د غیږې ستړي مشي وکړل. خو کرنیل شاه ولیخان اندیښمن و چي څنګه به څلورنیم زره لښکر د بچه سقاو اویا زره لښکر ته ماتي ورکړي. خو لیکوال جنرال وزیري ورته ډاډ ورکړ چي د بچه سقاو د جنګیالیو روحیه یي « په اورګون، خوست او څمکنیو کي لیدلي ده». ځلمي خان منګل، زمرک خان ځدراڼ، مُلتاني مولوي صاحب الله نوازخان(د حبیبیې ښوونځي ښوونکی)اوحاجي نواب خان کاکا هم د لیکوال جنرال ستاینه وکړه ، او کرنیل شاه ولیخان ارام شو. سبا( ۶ تله ۱۳۰۸)[ ۱۹۲۹ /۹/۲۸] د ژغورني لښکر د شُترګردن له لیاري دوشي ته ورسید. په دغه قافله کي د شاه ولی خان ۴۰۰ جنګیالیو (ځاځیانو او ګردیزیانو) برخه لرله او «یو شمیر[یې] توپکي هم...نه درلودې». ټول لښکر په خوشی کي دوه شپې او ورځې تم شوی و چي د جګړې نقشه جوړه کړي. د ژغورني د لښکر خوراک او څښاک د دوشي ولس په غاړه اخیستی و. د جنرال یارمحّمد وزیري د کوماندې لاندې دوه ورځې وروسته ( د تلي په اتمه) د وزیرو او مسیدو د لښکر دولس سوه جنګیالي د تنګي په لوري د سقاویانو سره د مقابلي لپاره ورغلل. په تنګي کي سقاویانو د سپا سالار پردل خان او جرنیل محمد عمر خان ناصري («سور جرنیل») د کوماندې لاندې مورچلونه نیولي وو. یوه ورځ وروسته سهار وختي( په ۵ بجو) یي په مقابل اړخ له هرې خوانه بریدونه پیل کړل. جګړه تن په تن وا وښتله او د غرمي په ۱۲ بجو په هغوی ماتي ګډه شوه او دوه جنرالانو یي «مخکي تیښته کړې وه.» لیکوال جنرال وزیري د سقاویانو ماتي د جګړې په ډګر کي غوښتله « نه د دوی په تباهی او مرګ کي» ځکه دوی هم مسلمانان وو. زیات شمیر سقاویان مړه او ژوبل شول او پوره پنځه سوه یي «زما د میړنیو په لاس کیوتل.»

د لښکر د مشرانو په مشوره، پریکړه وشوه چې لـه تنګي څخه دې زرغون ښارته لاړ شي. دغه شان خپل پاتي لښکر یې هم خبر کړ چې له خوشی نه دې ځانونه زرغون ښار ته ورسـوي. د ۱۹۰۸ د تلي په نهمه [اکتوبر ۱۹۲۹=۲۶ ربیع الثانی ۱۳۴۸] دوی تنګـي ته ورسیـدل او کـرنـیل شـاه ولي خان هـم ځان هلتـه ورساوه. د سقاوي بنـدیانو په اکـله داسي پـریـکړه وشـوه چې په کابل کي له جګړې وروسته دې «په عـزت اواحترام رخصت کړل شـي.» دغو غریـبو بندیانو ته ویل شوي وو چې دوی د «قـاديـانـي» امان الله خان د لښکر پـه ضـد جـنګـیږي. ولـولـئ ۲۶۷-۲۸۳ مخونه

## (۱۷) کرنیل شاه ولی خان غوښتل چې د ژغورني د لښکر مشر شي

د تیـر په شان د ژغـورني لښکر په زرغون ښارکي هم  د میلمستونونو په ځای، یو ځل بیا غوره وګـڼله چې په «سپیـره ډګـر» کي شپـه تیره کړي او هم هلته د پیرې او فوري تیارسی ترتیبات ونیول شي. د ۱۳۰۸ د تلي (میزان) په لسمه نیټه[۲اکتوبر ۱۹۲۹]  چې سپیدي لا نه وې چاودلي د محّمد اغـي او نورو پلـوونو نـه د زرغون ښار په لـوري د ماشینګنـو، توپـونو اوټوپکـونـو ډزو د تنګـي د جګړې سترتیا او ساړه د ژغورني له لښکر نه هیر کړل. په نیمه ګینټه کي دغه لښکر د مقابلي لپاره چمتو شـو.کـرنیل شاه ولی خان او نـورو ملګـرو یي ځانونه د ژغـورني د لښکر ډګر تـه راورسـول. شاه ولیخان په وارخطایي سره د ژغورني د لښکر مشرانو ته خپله اندیښنه څرګنده کـړه:سقــاوي لښکـر غواړي چې «موږ په همدې زرغـون ښار کي محاصره کـړي.» عبدالغني ګردیـزي او شاه ولیخان «په غیرمستقیم ډول» غوښتل چې د سقاویانو له خوا د تنګي د بیرته نـیولو پــړه د ژغــورني پــه لــښکر ورواړوي. «نــژدې و چې زمــوږ او د دوی تر منځ همکاري» پای ته ورسیـږي. خـو زمرک خان ځـدران، ځلمی خان منګل، سنک خان منګل، شیرجان تنی او کوکو خــان چې په قومي چارو پوهیدل «خبره سره کړه.» غونډ مشر عبدالله جان احمدزي- وزیر کرنیل شاه ولی خان او عبدالغني خان ګردیزي ته وویل چې د ژغورني لښکر پخپله خوښه راپورته شوې چې خپل هیواد وژغـوري. د ژغـورني لښکـر په ګردیز او تنګي کي د سقاوي غـټانو غـوږونه ورتــاوکړي او تـینښتي ته اړکړي دي. اوس دي هغه کسان د تنګي پیره داران شي چې «پــه موږ پــړه » اچــوي.  د شاه ولی خان هڅه په دې راڅرخیدله چې د کابل په مورچلونو کي د ژغورني د لښکر مشـرتـوب « په خپل نوم سره ونوموي ، خو موږ [د ژغورني د لښکر مشرانو]» ته دغه هڅه د منلو وړ نه وه ځکه چې د خپلواکی له جګړې نه یې زده کړه کړې وه ( د خپلواکی په جګړه کي محّمد نـادرخـان ځان د ټـل فاتـح اعلان کړی و): هغه مهال (۱۹۱۹زییز) د وزیرو او مسیدو لښکر له انګـریزانو نه ۵۵ چونی او پوځـي مرکزونه ونیول، خو د افغانستان حکومت د وزیرو او مسیدو  د یوه مشر نوم هم «په خوله یاد نکړ...او د ټل پوځي چونی  چې مجاهدینو ونیوله ، بیا یي سپـه سالار محّمدنادر خان ته بـلـنه ورکړه چې په خپل قدم سره [ دې دغه فتح شوې] چـونی په رسمي ډول فتح کړي». خوبیا د ټل د فتح شوې چونی «فتح د محّمد نادر خان په نوم سره ونومول شوه(مخونه ۲۹۰-۲۹۱). په پایـله کي اتـفاق په دې شو چې د لیکوال جنرال یارمحّمد خان وزیري جنګیالي دې په تنګي او محّمـداغـه کي د سقاویانو په مقابل کي وجنګیږي. دلیـل یي دا و چې: د ده لـښکر د تیارسی په حالت کي و او د د نـورو لښکر په میلمستـونونو کي اړولي و. په  تنګي او محمداغه کي د سقاویانو پـه ضد د جګـړې لپـاره دوه زره تـنه وخـوځیدل او نـور لښکر په زرغـون ښـار کي د زیـرمي پـه تـوګــه پاتـي شــو

د ۱۳۰۸ لمریز د میزان په یـولسمه نیټـه[۳، اکتوبر ۱۹۲۹] په تیاره سهار کي لښکر ته کومانده ورکـړل شوه چې له درې خواو دې په محمّداغه کي په سقاویانو برید پیل کړي. په دغه جګړه کي بچه سقاو پخپله جنګیده. کله چې د توپ

يوه ګولی د هغه په جبه خانه او بله يې د هغه اس ته نږدې ولګيدله ، په سقاويانو ماتې ګډه شوه او د کابل په لوري وتښتيدل. د ژغورنې لښکر په محّمداغه کې د غليم ټول مورچلونه او درې سوه جنګې سړې ژوندي ونيول چې د اورګون د عسکري کلا تسليم شوی او په درناوي سره بخښل شوی غونډ مشر عبدالغياث خان کوهدامنی هم پکې شامل و. د ده په شمول نور ټول نيول شوي سړي زرغون ښار ته واستول شول، خو دوهم ځل نيول شوی عبدالغياث خان کوهدامنی په زرغون ښار کې اعدام شو. د افغانستان د ژغورنې جنګيالي د ۱۳۰۸ د ميزان په ۱۲[۴، اکتوبر ۱۹۲۹]، د تنګي واغجان په بيا نيولو پسې لاړل. ماتې خوړلي سقاويان ډير ژر وتښتيدل، او ليکوال جنرال وزيری د خپل لښکر سره زرغون ښارته ستون شو. په همغه ورځ( ۱۲ميزان ۱۳۰۸)[۴ اکتوبر ۱۹۲۹] دولس بجو «ننګيالی او غيرتي افغان» محّمد ګل مومند ځانله زرغون ښار ته راورسيد او د ژغورنې د لښکر سره غبرګ شو.

نوربيا